هيڅ مسلمان نشته چې په يو مصيبت اخته شي او هغه څه ووايى چې الله تعالى يې ورته امر کړى يعنې: {إِنَّا لِلهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ} [البقرة: 156]،اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي، وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا) {يقينا چې مور د الله يو او مور هغه ته ورګرځېدونکي يو} اې الله! ماته زما د مصيبت بدله راکړه او له هغه څخه غوره راکړه، مګر دا چې الله به له هغه څخه غوره بدله ورکړي

له ام المؤمنين؛ ام سلمه رضى الله عنها څخه روايت دى وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: "هيڅ مسلمان نشته چې په يو مصيبت اخته شي او هغه څه ووايې چې الله تعالى يې ورته امر کړى يعنې: {إِنَّا لِلهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ} [البقرة: 156]،اللَّهُمَّ أْجُرْنِي فِي مُصِيبَتِي، وَأَخْلِفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا) {يقينا چې مور د الله يو او مور هغه ته ورګرځېدونکي يو} اې الله! ماته زما د مصيبت بدله راکړه او له هغه څخه غوره راکړه، مګر دا چې الله به له هغه څخه غوره بدله ورکړي" ام سلمه رضي الله عنها وايي: کله چې ابو سلمه مړ شو، نو ما (له ځان سره) وويل: کوم مسلمان به له ابو سلمه څخه غوره وي؟ هغه لومړى کور و چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ئې هجرت وکړ، (خو بيا هم) ما دا دعا وکړه، نو همغه و چې په بدله کې الله تعالى رسول الله صلى الله عليه وسلم راکړ.

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

ام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها وايي چې هغې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يو ځل اوريدلي و چې فرمايل يې: هر مسلمان ته چې يو مصيبت ورسېږي او هغه څه ووايي چې الله تعالى يې ورته ويل روا کړي دي: {إِنَّا لِلهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ} [البقرة: 156] (اللهم أجرني) اى الله ماته اجر راکړې، او ماته زما د صبر اجر راکړې، (في مصيبتي) زما په هغه مصيبت کې چې رارسېدلى دى (وأخلف لي) او په بدل کې يې (خيرًا منها) له هغه غوره راکړې، مګر دا چې الله تعالى به په بدل کې له هغه غوره ورکړي. وايي: کله چې ابو سلمه وفات شو نو ما وويل: کوم مسلمان به له ابو سلمه څخه غوره وي؟! هغه خو لومړنى کور و چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې هجرت وکړ، خو بيا الله راسره مرسته وکړه او ما وويل (يعنې دا دعا مې وکړه) همغه و چې الله تعالى په بدل کې رسول الله صلى الله عليه وسلم راکړ، چې له ابو سلمه څخه غوره دى.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65772